# تاسو باید په امریکا کې د کار په ځای کې د خپلو حقونو په اړه په څه شي پوه شئ؟

**تاسو په کار ځای کې حقونه لرئ. هغه قوانین زده کړئ چې ستاسو ساتنه کوي او دا پوهه درکوي چې څنګه ناوړه استفاده یا استحصال وپېژنئ.**



## زما حقونه کوم دي؟

- تاسو باید په هغه ایالت کې چې کار کوئ **لږ تر لږه قانوني معاش** ترلاسه کړئ په ډېرو ایالتونو کې لږ تر لږه معاش د فدرالي حکومت لږ تر لږه معاش (په ساعت کې 7.25 ډالر) څخه لوړ دی

- که تاسو په اونۍ کې له 40 ساعتونو زیات کار کوئ، نو کار ورکوونکی باید د **اضافي وخت** پیسې درکړي. د دې مطلب دا دی چې له 40 ساعتونو زیات کار په هر ساعت کې، کار ورکوونکی باید تاسو ته د اصلي مزدورۍ یو نیم برابره پیسې درکړي.

- فدرالي قوانین دا هم غواړي چې کار ورکوونکی تاسو ته د کار **خوندي او بې خطره** چاپېریال جوړ کړي.

- **د ځوانانو ساتنه:** تر 18 کلونو کم عمره ځوانان د خطرناکو کارونو اجازه نه لري، لکه په کانونو کې کار، د درنو ماشینونو کارول، پر چتونو برسېره کار کول، یا د موټرو چلول. داسې قوانین هم شته چې د ځوانانو کاري ساعتونه را محدودوي.

## د کار جواز اخیستل



- په امریکا کې د کډوالو او د ORR وړ ځوانانو لپاره پر دې پوهېدل مهم دي چې **تاسو یوازې هغه وخت کار کولی شئ چې قانوني اجازه ولرئ.** که تاسو تر اوسه د کار اجازه نه وي اخیستې، نو تر هغې قانوني کار نه شئ کولی تر څو چې مو ترلاسه کړې نه وي.

- ښه به دا وي چې د **کډوالۍ له یوه وکیل سره خبرې وکړئ**، چې په امریکا کې د کار اجازې اخیستلو په اړه معلومات درکړي.

- بې اجازې کار کول **جدي خطرونه** لري:
  - دغه چاره د کډوالۍ له چارواکو سره یا مو قانوني قضیې په برخه کې ستونزه رامنځته کولی شي.
  - له قانوني اجازې پرته کار کول د دې سبب کېږي چې مالکان درسره بد خوی یا زیاتی وکړي او یا درنه ناجایزه ګټه واخلي.



U.S. COMMITTEE FOR REFUGEES AND IMMIGRANTS

# د کارګرانو د ناوړه ګټې اخیستنې او ظلم لس خبرداري نښې



1 که کار ورکوونکی درته د خپل ایالت اصغري مزدوري نه درکوي.

2 که تاسو په اونۍ کې له 40 ساعتونو زیات کار کوئ او مالکان درته د اضافي وخت پیسې نه درکوي.

3 که کار ورکوونکی د کار پر وخت د ډوډۍ یا تشناب لپاره وخت نه درکوي.

4 که کار ورکوونکی درته د رخصتۍ اجازه نه درکوي کله چې

5 که کار ورکوونکی درته ګواښونه کوي چې که رخصتي واخلئ، نو له کاره به مو وباسي؛

6 که مو کار ورکوونکی هویتي اسناد (لکه پاسپورټ، د کار جواز او ټولنیز امنیت کارت) له ځان سره لري او تاسو ته د هغې د کارولو اجازه نه درکوي؛

7 که ستاسو کار ورکوونکی ستاسو له معاش څخه د کور کرایه، نور لګښتونه، یا پور ورکولو لپاره پیسې اخلي؛

8 که مو کار ورکوونکی له دې امله درته د پولیسو یا کډوالۍ ګواښونه درکوي چې تاسو قانوني اجازه نه لرئ؛

9 که تاسو کار ونه کړئ نو کار ورکوونکی مو تاسو یا مو کورنۍ ته زیان رسوي یا یې د رسولو ګواښونه درکوي؛

10 که تاسو د زیان له ویرې ځان کار ته اړ کړئ.

**که داسې حالاتو کې یئ، نو د باور مشران، قضیې کارکوونکي، یا وکیل سره خبره وکړئ. تاسو د مرستې، معلوماتو، خپلو حقونو، او ګټو په اړه د پوهېدو او د وسایلو کارولو لپاره لاندې شمېرې ته زنګ وهلی شئ:**

**د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې ملي هاټلاین (National Human Trafficking Hotline)**

**1-888-373-7888**



refugees.org

The production of this material was supported by Grant #90RB0054 from the Administration for Children and Families (ACF). Its contents are solely the responsibility of the U.S. Committee for Refugees and Immigrants (USCRI) and do not necessarily represent the official views of ACF.

U.S. COMMITTEE FOR REFUGEES AND IMMIGRANTS